# لومړۍ ضمیمه : میتودولوژي

دا سروې، د خپل ډول څلورمه سروې ده چې په ۲ کلونو کې یوځل ترسره کیږي،.چې د ۲۰۱۲م. کال له سپټمبر تر ډسمبرمیاشتې پورې ترسره شوې او ۷۷۹۸ کورنۍ د افغانستان په ګوټ ـ ګوټ کې سروې شویدي . دغه معلومات، د ۵ سوپروایزرانو او ۶۸ سروې کوونکو لخوا ،چې نیمایي نارینه او نیمایي مېرمنې وې او د افغانستان د روڼتیا څار اداري IWA لخوا ګمارل شوي اولاربووونه یې کوله، تر سره شوي ده . د معلوماتو د راټولولوچاره په ۳ میاشتو کې بشپړه شوه.یوازې هغو کسانو سره، د سروې په لړ کې مرکې شوې دي ،چې عمرونه یې له ۱۸ کلونولوړ او په افغانستان کې یې ژوند کاوه.په ملي کچه د نمونې اخیستنې د تیروتنې تفاوت +/- ۱٪ او د ۹۵٪ باورترمنځ واټن دی .

**په ولایتونوکې د ښار او کلي په کچه، د نمونوي نښو ویشل**

د تر سره شویو مرکو د نمونو له اړخه د ډاډ ه کیدو لپاره د وګړو دمختلفو ټولنیزو او اقتصادي قشرونو، سیمو او قومونو استازي د تنوع د ساتلو لپاره په پام کې نیول شویدي. ګڼ پړاویز نمونوي پروسیجرونه منل شویدي او ګټه ترې پورته شوې ده. لومړی پام په هیوا د کې د کلي او ښار په کچه دخلکوویشنې ته شوی .ددې لپاره چې سروې د هرې غاړې بشپړ استازیتوب وکړي، نو ۲۳٪ د سروې نمونې، دښاري سیمو له مرکزونو اخیستل شوي، په داسې حال کې، چې ۷۷٪ ځواب ورکوونکي له کلیوالو سیمو څخه غوره شویدي .په دغه سروې کې د ښاري سیموخلک ، هغه کسان بلل شویدي، چې د ولایتونوپه مرکزونو کې د ښاروالیودحدودو په دننه کې ژوند کوي او یا د ولایتونو د ښاروالیوپه ولسوالیو او یا ښاري مرکزونو کې ژوند کوي.

په دویمه مرحله کې، په هرولایت کې مرکه کوونکي دافغانستان دمرکزي احصایې (CSO)د تخمیني ورکړل شویو نفوسوله ډلې دهمغه ولایت د نفوسو په تناسب غوره شویدي .په یوځو ولایتونو،لکه نیمروز، نورستان او پنجشیرکې، په قصدي ډول د نمونې تر کچې ډیرمرکه کوونکي غوره او مرکې ورسره شوې دي(د ولایت د نفوسو په تناسب درې برابره مرکه کوونکي غوره شوي دي).ترنمونې د ډیرو مرکه کوونکو د ورکړې موخه داوه، چې په دغو ولایتونو کې لږترلږه د ۲۰۰ کسانو مرکې حتمي او ډاډه شي اوبله داچې، د نمونې اخیستود تیروتنې او غلطی کچه، په دغو ولایتونو کې راکمه شي .

دریم،په هر ولایت کې نمونې په مساوي ډول د نارینه او ښځینه ځواب ورکوونکو ترمنځ ویشل شوې دي، موخه داده، چې د جنسیت له اړخه هم استازیتوب وشي او حساسیت ډاډه شي . له نارینه او ښځینه ځواب ورکوونکو سره مرکې، د همغه جنس د سروې کوونکو لخوا یانې له نارینه وو سره نارینه سروې کوونکو مرکې کړې او له مېرمنو سره ښځو مرکې ترسره کړې دي. دا کار، په افغانستان کې، د کلتوري ملاحظاتو پربنسټ ترسره شویدی.

ددې لپاره، چې په کلیوالو سیمو کې د نمونې له جغرافیوي ویش او د کلیوالي استازیتوب څخه هم ډاډه شو، لږترلږه دوه ولسوالی ، چې لږ ترلږه اته کلي پکې شامل وي، په نابېره او تصادفي ډول، په هر ولایت کې غوره شول. له همدې کبله یو شمیر تصادفي غوره شوي کلیو ته د نا امنیو له کبله لاس رسی نه وو.موجود اوپه هغو کلیو کې چې واورو پکې لاس رسی نا ممکن کړی وو او یا لیرې پراته وو، ددغو کلیو پرځای یوشمیر نور کلي په ناڅاپي ډول غوره شول. په هرولایت کې مرکه کوونکي په کلیوالو سیمو کې په مساوي ډول په غوره شویو ولسوالیوویشل شویدي.